Swedbank och Sparbankerna

# د Swedbank او Sparbankerna ته ښه راغلاست

د سویډبانک یا د سپما بانک سره د یوه پیرودونکي په توګه شراکت لپاره تاسو اړتیا لرئ چې یوه پیژندپاڼه وړاندې کړئ او تشریح کړئ چې ولې بانکي حساب ته اړتیا لرئ. دا د هغه معلوماتو لارښود دی چې تاسو ورته اړتیا لرئ بانک ته یې وړاندې کړئ کله چې له یوې څانګې څخه لیدنه کوئ.

## شناخت

**که تاسو د سویډیش شخصي پیژندپاڼې شمیره لرئ**
که تاسو د سویډیش شخصي پیژندپاڼې شمیره لرئ، نو تاسو اړتیا لرئ د سویډیش معتبر پیژندپاڼه وړاندې کړئ.

**که تاسو سویډیش شخصي پیژندپاڼې شمیره ونلرئ**
که تاسو د سویډیش شخصي پیژندپاڼې شمیره نلرئ، تاسو اړتیا لرئ معتبر ملي پاسپورټ وړاندې کړئ چې ستاسو تابعیت پکې لیکل شوی وي.

د هغه هیوادونو لپاره چې د شینګن تړون غړي دي، د سویډیش ملي پیژندپاڼې کارت ته ورته کارت چې ستاسو ملیت یا تابعیت پکې لیکل شوی وي هم معتبر دی.

کله چې تاسو بهرنۍ پیژندپاڼه وړاندې کوئ، تاسو اړیاست پیژند مو د یوه اضافي سند سره تثبیت کړئ، لکه د اوسیدو جواز، د دندې بیان، د مالیې چارواکو لخوا تصدیق یا د ښوونځي تصدیق.

**که تاسو په سویډني یا انګلسي ژبه نه پوهیږئ**
که تاسو په سویډني یا انګلسي ژبه نه پوهیږئ، تاسو اړ یاست ځان سره بل نفر راولئ چې ستاسو لپاره ژباړه وکړي.

لازم ده چې موږ د یو بل په خبره پوهه شو، نو پدې توګه به تاسو د یوه پیرودونکي په توګه په خپلو حقونو او مکلفیتونو پوهه شې او موږ به ستاسو او ستاسو مالي چارو په اړه خپلو پوښتنو ته ځواب ترلاسه کړو.

## تاسو ولې بانکي حساب ته اړتیا لرئ؟

د سویډن ټول بانکونه له قانوني پلوه مکلف دي چې پوښتنه وکړي تاسو ولې بانکي حساب ته اړتیا لرئ او تاسو به څنګه دغه حساب کاروئ. دغه حساب ستاسو د معاش یا کوم بل ډول مددمعاش خوندي کولو، د کرایه ورکولو لپاره وي یا هم د سپما حساب وي.

زموږ ډیری څانګې نغدي معاملې نه کوي. د دې دلیل لپاره تاسو اړتیا لرئ له خپل بانک څخه غوښتنه وکړئ چې تاسو څنګه کولی شئ د نغدي سربیره بل کوم ډول باندې څنګه لګښت یا تادیه وکړئ.

ستاسو د بانک کارت او ستاسو د حساب معلومات شخصي دي. ستاسو کارت یا حساب نباید د نورو لخوا وکارول شي. مهم دي چې د خپل کارت او حساب معلوماتو سره مواظب اوسئ. په یاد ولرئ چې هیڅکله خپل پن (PIN) کوډ بل چا ته مه ښکاره کوئ.

د عاید ملاتړ ترلاسه کولو په موخه که تاسو د خپل بانک څخه د حساب بیان ته اړتیا ولرئ، تاسو اړ یاست خپلې نږدې څانګې ته ورشئ چیرې چې دوی تاسو سره مرسته کوي چې پرته له لګښت څخه د بانک میاشتني بیان ترلاسه کړئ.

**د بانکي حساب درلودو حق**
هرڅوک، د تابعیت په پام کې نیولو پرته د بانکي حساب پرانیستلو لومړنی حق لري چې د خوندي کولو تضمین په واسطه تر پوښښ لاندې وي. مګر په ځینې حالتونو کې، بانک حق لري چې تاسو ته د حساب پرانیستلو څخه ډډه وکړي. بانک نشي کولی تاسو ته حساب پرانیزي که چیرې:

- بانک ونشي کولی تاسو په ښه توګه وپیژني
- بانک پوهه شي چې هغه معلومات چې تاسو د دې لپاره سپارلي چې ولې غواړئ یو بانکي حساب پرانیزئ هغه ناکافي دي



## مقدماتي وړانديز




زموږ مقدماتي وړانديز تاسو ته وړتيا درکوي چي خپلي پيسي خوندي کړئ او خپل تاديات اداره کړئ.

دغه دا لاندې موارد لري:

- بانکي حساب
- د بانک کارت
- د تادياتو خدمت

که تاسو په سويډيش يا انګلسي ژبه پوهيږئ او د ډيجيتل خدماتو سره اشنا اوسئ، نو موږ نور وړانديزونه هم لرو. د هغه څه په اړه چي ستاسو لپاره خورا مناسب دي د خپل بانک سره وغږيږئ.

## حقايق

### د خوندي کولو تضمين په اړه

سويډن د خوندي کولو تضمين لري. پدې معني چي که چيري بانک تاوان وکړي نو پيرودونکو ته به د دولت لخوا يو ټاکلی مقدار تاوان ورکړل شي.

### د نغدي پيسو په اړه

سويډ بانک، د سيما بانکونه او نور ډيری بانکونه او سهمداران په ټولنه کي د نغدي پيسو د ګردش کمولو لپاره فعال کار کوي. د همدي لپاره موږ خپل پيرودونکي هڅوو چي د کارت تاديات وکاروي، نغدي پيسي واخلي کله چي په پلورنځيو کي د کارت سره تاديه کوي، د نغدي پيسو خوندي کولو او اخيستلو لپاره د نغدي پيسو د خوندي کولو مشينونه او ای.تي.ايم (ATMs) وکاروي.

### د پيسو مينځلو او تروريزم تمويل پروړاندي اقداماتو قانون په اړه

د پيسو مينځلو او تروريزم تمويل پروړاندي اقداماتو قانون د سويډن يو قانون دی چي د مالياتي فساد او د جنايي فعاليتونو تمويل لپاره د بانکونو د کارولو مخنيوي په موخه جوړ شوی دی. د دغه قانون مفهوم دا دی چي بانک حق نلري بانکي حسابونه پرانيزي يا انتقالات وکړي که چيري دا ځواب ترلاسه نکړي چي ولي پيرودونکی د حساب خلاصولو ته اړتيا لري او څنګه به کارول کيږي.